محمد انور اخګر
۲۰۲۳/۰۲/۲۶

# د افغانستان جمهوريت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (شپږمه برخه)

**حامد کرزی، اشرف غني او پاکستان**

لکه وړاندې چې ویل شوي دي، په کابل کې تنظیمي باندونه واکمن وو، حامد کرزي د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال په توګه دنده درلوده خو د رباني حکومت د استخباراتو مشر ملا قسیم فهیم په دې تور چې ګواکي له مخالفینو سره مرسته کوي ونیول شو او وځورول شو، ښايي له کرزي سره د شمالي ټلوالي ناوړه کړنې د دې لامل شوي وي چې هغه يې له طالبانو سره همکارۍ ته وهڅولو. له طالبانو سره د کرزي اړیکي سیمه ییزې او نور اړخونه هم کیدلی شي. کرزی د کندهار ولایت اصلي استوګن دی او پلار يې عبدالاحد کرزی د افغانستان د پخواني پارلمان غړی، يو مخور او پېژندل شوی شخصیت ؤ. سربېره پر دې حامد کرزی يو خوځنده او ټولنیز کس هم ؤ، دا اړیکي وې چې «د طالبانو په تېر حکومت کې نوموړی د ملګرو ملتونو په سازمان کې د طالبانو د استازي په توګه په نظر کې ؤ خو هغه ځکه له دغې دندې ډډه وکړه چې کله يې پام شو، د ده د ټاکلو فرمان د پاکستان د بهرنیو چارو په وزارت کې چاپ شوی دی.» (ډاکټر رنګین دادفر سپنتا: سیاست افغانستان، روایت از درون، ۲۱۶مخ)

د حامد کرزي پلار، مرحوم عبدالاحد کرزی د پاکستان خارګرې اداري (آی، ایس، آی) په کوټه کې شهید کړ، د قاتلانو موخه دا وه چې عبدالاحد کرزی له منځه یوسي او حامد کرزی وډار کړي ترڅو د ده د ملي هڅو مخه ډب کړي خو برعکس کرزی ونه ډار شو بلکې د نورو پښتنو په څېر يې خپلې هڅې لاپسې ګړندۍ کړې او د خپل پلار قتل، اړ کړ شمالي ټلوالي او (سي، آی، اې) سره لاس يو کړي، هغه وو چې نوموړي د لويې جرګې د راټولولو په تړاؤ خپلې هڅې پراخې کړې.«د ۲۰۰۱ز، کال په دوبي کې [احمد شاه] مسعود ومنله چې د لويې جرګې په جوړولو کې د ظاهرشاه د هڅو ملاتړ کوي، ظاهر شاه چې د مسعود په هوکړې ډاډه شو نو له روم څخه بهر يې په يو بل هېواد کې د لويې جرګې جوړول ومنل، مسعود او کرزي په ورته وخت کې د پوځي همکاريو د ترلاسه کولو پر ميکانيزم کار کاوه، د پاکستان خارګره اداره (آی، ایس، آی) چې د طالبانو پر ضد د کرزي نوي درېځ راپارولي وه، کرزي ته يې د سپتمبر تر پايه له پاکستانه د وتلو امر وکړ. (زلمی خلیل زاد: استازی...: ژباړن: لطف الله لطف. ۱۳۰)

وروسته له هغې چې د طالبانو واکمني له منځه ولاړه او کرزی واکمن شو، سره له دې چې پاکستان د کرزي پلار وژلی ؤ، بيا هم ده غوښتل پاکستان پوه کړي: غواړي له پاکستان سره دوستي وکړي، څه چې په سیمه کې تېرې د امريکا د يوې توطيې پايلې دي چې دواړه هېوادونه يې قرباني دي. (سیاست افغانستان، روایت از درون، ۱۷۶)

په دې لاره کې که حامد کرزي هر څو کوښښونه وکړل چې له پاکستان سره د دوستی اړيکې وپالي، پاکستان ته يې له شلو ځلو ډېر سفرونه وکړل چې په لومړي سفر کې حامد کرزي ته جنرال پرويز مشرف په دروغو وويل چې پاکستان له افغانستان سره په هر ډول پرمخ تګ او بيا رغونه کې ولاړ دی. هغه مهال د لنډ مهالي اداري مشر حامد کرزي جنرال مشرف ته ډېره ښه او ريښتيني وړاندوينه وکړه چې د هغې وړاندويني عملي پايلې موږ وليدلې، کرزي وويل:«په۱۹۸۰ز، کلونو کې پرته د پاکستان له همکارۍ څخه له پخواني شوروي اتحاد سره په جګړه کې بريا ناممکنه وه، اوس هم د ترهګرۍ پر وړاندې له بين المللي ايتلاف سره د پاکستان له همکارۍ پرته بريا ناشوني ده.» (د فبروری ۶/ ۲۰۰۲ز)

کله چي په افغانستان کي د طالبانو لخوا وژونکي بريدونه زيات شول او امنيت خورا خراب شو نو حامد کرزي پر پاکستان پرله پسي نيوکي وکړې او د بريدونو پړه يې پر پاکستان واچوله، ويې ويل چي ترهګر او اسامه بن لادن په پاکستان کي اوسيږي، د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر بوش، حامد کرزی او جنرال مشرف سپيني مانۍ ته وبلل چي د روانو جګړو په اړه خبرې وکړي. (۱۳۸۵/۶/۵ل. ل)
د جنرال مشرف او حامد کرزي تر منځ خبرې تونديږي شوې، د نيوکو په بهير کي جنرال مشرف (چي له آره يو بې ادبه پوځي او د ګادۍ د آس په څېر يوازې مخامخ لار ګوري) حامد کرزي ته ښکنځلې وکړې ويې ويل:«کرزی د شترمرغ په څېر دی چي خپل سر په شګو کي ننه باسي نو فکر کوي چي څوک يې نهويني.» په داسي حال کي چي د همدغو خبرو په بهير کي کرزي مشرف ته څو ځلې د ورور خطاب وکړ.
دا چي مشرف يو پوځي کس ؤ د هغه وينا له ډيپلوماسۍ څخه لرې وه، جنرال مشرف د وينا پر مهال د موضوع اړوند پر متلونو او مثالونو ورکولو نه پوهېده، د شترمرغ اصطلاح کارولو مانا داسي ده چي شترمرغ د خپلو پښو سره نږدې ځای نه ويني خو لرې سيمه ښه ليدلی شي، شترمرغ په خپله جنرال مشرف ؤ ځکه چي بن لادن په پاکستان کي د يوې پوځي اکاډمۍ سره نږدې اوسېده، د جنرال مشرف په وينا ده په هغه ځای کي سپورټ کولو.
حامد کرزي تر دې بريده د پاکستان سره ښه نيت څرګند کړ چي په يوه تلويزيوني مرکه کي د يوه پاکستاني خبريال د دې پوښتنې په ځواب کي: که امريکا وغواړي پر پاکستان بريد وکړي تاسو به د کوم هېواد (امريکا يا پاکستان) پر لورې ودرېږئ؟ کرزي خپل لاس په سينه کېښود ويې ويل:«د پاکستان په څنګ کي به ودرېږو.»
حامد کرزي که هر څو کوښښونه وکړل چي پاکستان له خپلو سل ډوله شرارتونو واړوي پايله يې ورنه کړه، پاکستان له کرزي سره ټول عمر په منافقت او غدارۍ کي تېر کړ.
له حامد کرزي وروسته اشرف غني د ۲۰۱۴ز، کال د ولسمشرۍ ټاکني له ډاکټر عبدالله څخه وګټلې خو عبدالله د امريکا د بهرنيو چارو وزير د ملاتړ له امله له اشرف غني سره د افغانستان د قانون خلاف ځان په واک کي شريک کړ.
ولسمشر اشرف غني چي يو اقتصاد پوه کس دی او يوازې په خپل مسلک کي ښه پوهيږي، د پاکستان په اړه ډېر خوش باوره ؤ، اشرف غني وړاندې له هغې چي پاکستان ته سفر وکړي سعودي عربستان او چين ته سفرونه وکړل چي دواړه هېوادونه د پاکستان ستراتيژيک شريکان دي، ده غوښتل چي له دې لارې پاکستان له افغانستان سره سولې ته وهڅوي، غني د ۱۳۹۳ل. ل، کال د لړم په ۲۲مه نېټه پاکستان ته دوه ورځنی سفر درلود، هغه لومړی د پاکستان د وژل شويو پوځيانو پر مړيستونو باندې د ګلونو ګېډۍ کېښودې او بيا يې د پاکستان د سياسي مشرانو سربېره له پوځي چارواکو سره د هغه هيواد په پوځی مرکز کي ليدنه وکړه چي د ده دا ډول ليدنه له سياسي اصولو سرغړونه وه. په دې ليدنو کي پاکستان د افغانستان د ملي امنيت عمومي رييس انجنير رحمت الله نبيل له دندې د ګوښه کولو غوښتنه وکړه، اشرف غني له هر څه لومړی د پاکستان په غوښتنه د ملي امنيت مشر له دندې ګوښه کړ.
پاکستان چي له افغانستان سره له آره د ډيورنډ کرښې او له هند سره د افغانستان د دوستانه اړيکو مخالف دی، اشرف غني د دې لپاره چي پاکستان خوشاله وساتي په لومړيو کي يې له هند څخه ځان لرې ساتلی ؤ، د هند نوم يې په خوله نه راته او د ډيورنډ کرښې پر سر د اغزن تار د لګولو په اړه هم غلی پاتې ؤ.
پر ډيورنډ کرښه د اغزن تار د غځولو له امله حامد کرزي پر پاکستان او امريکايانو کلکې نيوکې وکړې ويې ويل:«داسي راپورونه خپاره شوي چي ګواکي پاکستان غواړي د امريکا په مالي مرسته پر ډيورنډ کرښه اغزن تار وغځوي. د امريکا د متحده ايالاتو له خوا پاکستان ته د کرښې پر سر د اغزن تار د غځولو په موخه ۱۵۰ميليونه ډالر ورکړې شوي دي. کرزی وويل چي د امريکا متحده ايالات له يوې خوا ځان د افغانانو متحد او ملګری بولي او له بلې خوا په خپل دغه عمل سره د افغانستان ارضي تماميت تر پښو لاندې کوي او د ډيورنډ په دواړو غاړو کي د افغانانو د بېلولو لپاره د پاکستان د تګلارې مرسته کوي.
کرزی زياته کړه:«د ډيورنډ پر کرښې د اغزن سيم د غزولو لپاره له پاکستان سره د امريکا دغه مادي مرسته د افغانستان د خپلواکۍ او ملي ګټو په خلاف عمل دی.» (https://www.khaama.com)
له بل پلوه د کنړ په ولايت باندې د پاکستان توپچي او راکټي بريدونه روان او لا پسي ډېر شول، په دې پلمه چي ګواکي د (ټي، ټي، پي) پنډغالي په کنړ کي دی، خو مفکر صاحب غنی بيا هم غلی او خوبولی ؤ، هغه مهال ما يوه ليکنه وليکله چي سرليک يې ؤ:(ولسمشر او د ده تاريخي بدنامي- ډيورنډ کرښه) چي ځينې اړينې برخې يې داسي دی:

***چي څوک تاپ درپسي وکړي، سره تک وهي لاسونه***
***دا ژوندون دی مردن نه دی، که دي وشي مردن هسي***
(خوشال بابا)

هر هغه چا ته چي تاريخي بې ننګي ورغاړې شي تر قيامت پورې به دغه طوق لعنت د هغه په غاړه کي پروت وي، تاريخي شرم داسي يو تور داغ او ناوړه بدنامي ده، که د يو هيواد ولسمشر، يا د هيواد کوم بل لوړپوړی چارواکی يو ځل بدنام شو نو په هېڅ صورت به خپله بدنامي پاکه نه کړای شي، تر څو دا نړۍ وي د ده نوم به په بده ياديږي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

زموږ په ګران هېواد، لوی افغانستان کې ډېر داسې پاچاهان او لوړپوړي چارواکي تېر شوي دي چې د خپلو ډول، ډول ناوړو کړنو له امله یې په تاریخ کې نومونه په بده ثبت شوي دي چې له هغو څخه، هغه پاچاهان چې د هېواد سپیڅلي خاوره یې، د خپلو ځاني ګټو په موخه په پردیو پلورلي ده چې له امله یې په تاریخ کې د تل لپاره په ناوړه نومونو یادیږي، د لوی افغانستان سپیڅلي خاوره چې د لوی احمد شاه بابا د هڅو او کوښښونو په پایله کې د افغانستان په نوم یو موټی هېواد رامنځ ته کړ، له بده مرغه چې د لومړي ځل لپاره د احمدشاه بابا نااهله لمسی، شجاع الملک لخوا واک ته د رسیدو په موخه د لوی افغانستان ختیځې سیمې سېکانو ته، د لاهور د درې اړخیز تړون پر بنسټ ورکړل شوې. (انګرېزان، شاه شجاع او سېکان، ۱۸۳۸ز) چې د هند انګرېزي کمپنۍ د خپلو ګټو په موخه لوی لاس په کې درلود.
نوموړي پاچا د دغه ناوړه عمل له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ او ورسره یې لویه تاریخي بدنامي هم خپله کړه..
د لوی افغانستان یو بل پاچا چې د هیواد خاوره یې له لاسه ورکړې ده د امیرشېرعلي خان زوی، سردار محمدیعقوب خان ؤ، نوموړی ناروغ، نیمه لیونی او د انګرېزانو په لاس کې اسیر پاچا ؤ چې د انګرېزانو له خوا په زور اړ شو، د ګندمک ناولی تړون لاسیک او د هیواد ختیځې سیمې، (سربېره پر هغو سیمو چې شاه شجاع سېکانو ته ورکړې وې) انګرېزانو ته ورکړي. (۱۸۷۹ز، کال د می میاشتې ۲۶ نیټه.)
د افغانستان له بدنامو او وطن پلورونکو پاچاهانو څخه بل تن سردار عبدالرحمن خان دی چې وروسته له شاه شجاع او امیر محمد یعقوب خان څخه یې د لوی افغانستان ځینې سیمې، واک ته د رسیدلو، د خپل واک د ساتلو او د اتلسو لکو روپیو په بدل کې پر انګرېزانو باندې خرڅې کړې، د کابل تړون یې له انګرېز ډیورنډ سره لاس لیک کړ.(۱۸۹۳ز) د دغه تړون له امله ده چې امیر عبدالرحمن خان داسې تاریخي بدنامي خپله کړه چې هېڅ کله به له دغې بې ننګۍ څخه خلاص نه شي او نه به یې څوک د ده دا تور داغ ورپاک کړی شي.
اوس مهال څلورم کس زموږ مفکر ولسمشر اشرف غني دی چې خپل راتلونکي تاریخ ته یې پام نه دی او د خپلې بې پروایۍ او بې مسولیتۍ له امله خپل تاریخ د شاه شجاع او عبدالرحمن خان په شان ناولی کوي، دا به سمه وي که ووایو چې له پورته یادو ملي خاینینو څخه به هم د اشرف غني نوم په تاریخ کې په ناوړه نوم ثبت شي، داسې:
۱ــ دا چې شاه شجاع سېکانو ته د لوی افغانستان یوه برخه خاوره ورکوله، په دې موخه وه چې له محمدزیو څخه د خپل پلار نیکه پاچاهي تر لاسه کړي او کله چې ځواکمن شي له سېکانو به د لوی افغانستان خاوره او نورې تر لاس لاندې سیمې او ورسره د کوه نور الماس چې د سېکانو مشر رنجیت سېنګ په ناځوانۍ او غدارۍ ورڅخه نیولی ؤ بیا ترلاسه کړي. (دیوان امرنات اکبري: ظفرنامه رنجیت سېنګ، لاهور چاپ،۱۹۲۸ز)
۲ــ دا چې امیر محمد یعقوب خان د ګندمک تړون لاسلیک کړ، د لیونتوب پر ناروغۍ اخته او هم د انګرېزانو په لاس کې اسیر او ناچار ؤ.
۳ــ د امیر عبدالرحمن خان موخه دا وه چې له دې لارې وکړای شي پاچاهۍ ته ورسیږي او خپل واک د انګرېزانو پر پوځي او مالي ملاتړ باندې وساتي.
خو د مفکر ولسمشر تاریخي مسؤلیت تر ټولو ځکه زیات دی چې مفکر صاحب د پورته پاچاهانو په شان موخې او مجبورۍ نه لري، نه د شاه شجاع او امیرعبدالرحمن خان په شان پاچاهۍ ته رسیدلی شي او نه هم د امیر یعقوب خان غوندې لیونی او نه هم د انګرېزانو له بچې، پاکستان سره اسیر دی.
زموږ مفکر ولسمشر د غفلت په خوب ویده دی تر دې چې که ډولونه ورته ووهل شي بیا به هم ویښ نه شي او کله چې څوک ویده وي هغه د ډیورنډ له کرښې چې عملاً کار پرې روان دی څه خبریږي او نه د ده په ډله کې داسې څوک شته چې ولسمشر له خوبه ویښ، خپل تاریخي مسؤلیت ته یې متوجه کړي، سالمې مشورې ورکړي او له تاریخي بدنامیو یې وژغوري، د ده نږدې ډله ټېله د خپلو شخصي ګټو لپاره هلې ځلې کوي، که وطن اوبه هم یوسي څوک یې په کیسه نه دي، د ولسمشر غني د ملي وحدت؟ حکومت داسې جوړښت لري چې یوه ورځ په یوه غونډه کې ښاغلي استاد اسمعیل یون د یو مسلمان شوي انګرېز ملا او د هغه له مقتدیانو سره پرتله کړ، ده وویل:«د اشرف غني د ملي وحدت حکومت! داسې جوړښت لري، لکه د انګرېز جان بټ مقتدیان: جان بټ چې د بي، بي، سي راډیو پخوانی خبریال ؤ او وروسته مسلمان شو، خلکو ته یې د لمونځونو امامت پیل کړ، ملاصاحب جان بټ خپل مؤذِن (بانګ کوونکی) یو تن پخواني خلقي ټاکلی ؤ، د تکبیر ویلو لپاره یې یو کس پرچمی غوره کړی ؤ او مقتدیان یې ټول بې اودسه وو.»
د ښاغلي اشرف غني په کابینه کې داسې څوک نه شته چې د پاکستان د آی، ایس، آی د ترهګرو پلانونو پر وړاندې وړ پالیسۍ او طرحې جوړې او پلي کړي دا وجه ده چې د پاکستاني استخباراتو ټول پلانونه د ننه په افغانستان کې په بري سره پلي کیږي چې له ټولو مهم پلان یې د ډیورنډ کرښې پر لیکه د اغزنو تارونو غځول دي چې په نتیجه کې لوی افغانستان وروسته له ۱۲۵ (۱۳۰) کالو په عمل کې د پنجابیانو لخوا دوه ټوټې کیږي، پنجابی پوځ په خپل سر بې له دې چې له چا وډار شي په ډاډه زړه، د نړیوالو قوانینو پر خلاف، د ډیورنډ پر کرښه (چې له آره، آزاده کرښه ده) اغزن تارونه غځوي، تر دې چې انګرېزانو هم په نوموړي کرښه دا ډول یو جانبه کار نه دی ترسره کړی، په لومړیو کې امیر عبدالرحمن خان له انګرېزانو سره د کابل تړون د شپږمې مادې پر بنسټ د یو ګډ کمیسیون پر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړاندې د کرښې په ځینو سیمو کې نښې ولګولې خو وروسته چې امیر خپل تاریخي ګناه ته متوجه شو نو د کرښې په نښه کولو یې په بېلا بېلو پلمو ځان یوې خوا او بلې خوا کولو چې تر نن پورې هم نوموړې کرښه په مکمله توګه په نښه نه شوه.

سره له دې چې پاکستانیان د بین المللي پرېکړو له مخې د انګرېزانو میراث خواره او ځای ناستي نه شي کېدلی خو فرضاً که داسې وبولو چې پنجابیان ځانونه د انګرېزانو زامن او میراث خواره بولي (!!)، بیا هم د کابل د تحمیلي تړون د شپېړمې مادې او د بین المللي سرحدي قوانینو پر بنسټ، هیڅ هیواد نه شي کولی د ډیورنډ کرښې په شان پر جنجالي پولو باندې یو اړخیز کار وکړي.

له بده مرغه چې زموږ مفکر ولسمشر او ډله ټپله یې په غتو، غتو ورته ګوري، نه یې د ملګرو ملتونو محاکمو ته شکایت وکړ، نه یې په امنیت شورا کې غږ پورته کړ او نه یې د کرښې پر سر پنجابیان ودرول، لکه دوی چې په کنړ کې زموږ کلي هره ورځ په توپو ولي او وړاندې راځي.

موږ له آره په دې باندې پوهېدلو چې ولسمشر له کوزو پښتنو او ډیورنډ کرښې سره چندان مینه نه لري، لکه چې ټول پوهیږو مفکر صاحب د خپلې بې ځواکه واکمنۍ له پیله تر اوسه، یو ځل د ډیورنډ کرښې په تړاو، د پکتیا ولایت د سفر پر مهال، تشې هوایي خبرې (ډزې) وکړې، وړاندې له دې یې د ډیورنډ او کوزو پښتنو او بلوڅو په هکله یوه خبره تر خولې نه ده وتلې. موږ ښاغلي غني ته دا وایو چې له تشو او بې عمله خبرو او چغېدلو څه نه جوړیږي چې له ډېر زور څخه دې د حنجرې غږ هم تغییر وکړي او څوک نه شته چې درته ووایي: خپل احساسات کنټرول کړه، خلک درپورې خاندي!.

په لومړیو کې زموږ مفکر ولسمشر پاکستان په پوره توګه نه ؤ پېژندلی، ده پاکستان هغه مهال پوپېژاند چې اوبه له ورخه تېرې وې، یو څوک چې د خپل ګاونډي شخصیت ونه پېژني، دا مانا لري چې هغه کس د سالم فکر څښتن نه دی، تاریخ ثابته کړې ده چې پاکستانی پوځ یو بې زړه او دارن پوځ دی، له هند سره یې په ټولو جګړو کې شرموونکې ماتې خوړلې دي او له موږ سره یې په تېرو څو ورو، ورو نښتو، (تورخم، سپین بولدک او نورو) کې وښودله چې پنجابی پوځ یو بې موراله، دال خور او مرۍ خور پوځ دی، ومو لیدل چې د سپین بولدک په وروستۍ جګړه کې یې زغره وال ګاډي په ځای پرایښودلي وو او ځانونه یې په منډه خلاص کړل.

***په وسواس په نامردۍ په وهم وېره***
***لا په زړه به وي ګیدړ تر ده زړه ور***
(خوشال بابا)

پاکستانی پوځ به هېڅکله زموږ سره د اوږدې مودې لپاره جګړه ونه کړای شي، که احیاناً پاکستانیان زموږ پر وړاندې ودرېږي، افغان اولس به په پوره میړانه لکه چې تاریخ ثابته کړې ده جګړې او قربانیو ته چمتو دي، موږ افغانان د ننه په خپلو کورونو او ښارونو کې، د پاکستانیانو له لاسه هسې بې نتیجې او بې مانا وژل کیږو، نو ښه به دا وي چې له دښمن سره په جګړه کې نر په نره شهیدان شو.

***کشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای***
***نه چې ګور لره روان شو له تلتکه***
(خوشال بابا)

***هغه ځوان چې د وطن په درد سوځیږي***
***که سل ځله پر مخ لوېږي پورته کیږي***

***ما ترې سل ځله قربان او صدقه کړي***
***چې د مرګ پر پوله ناست وي لا ځوځیږي***
(اکاډمیسین سلیمان لایق)

نېټه: ۱۴۰۱/۱۲/۵ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ